سراج الحق ببرک زي ځدراڼ ۲۰۱۳/۱۰/۰۸

# خوست ولايت پنځه کلن ستراتيژيک پلان او پاکستانی کلدارې

## دخوست ولايت پرمختګ، بيارغوني په وړاندې نه زغمونکي خنډونه او ستونزې

خوست ولايت د افغانستان د خپلواکۍ په تأريخ کې، د اقتصاد، سياست او امنيت په برخه کې خورا مهم ستراتيژيکی موقيعت لري. خوست د لراو برو پښتنو په تأريخ کې د تک راتک، ملي يوالي او ملي سياسي ويښتيا په لاره کې يوستره نه ماتيدونکي مرکز بلل کيږي. د خوست توريالي او په هيواد مين قومونه د هيواد د خپلواکي په جګړه کې تل په خپله خوښه د دښمن په وړاندې د جګړې په لومړۍ کرښه کې دريدلي دي. عجيبه خبر دا ده، چې دوی د هيواد د بيا رغوني په بهيرکې په ورستي ليکه کې درول کيږي. د ورستيو دولسو کالونو په بهير کې د خوست ولايت خلکو له ډيرو ستونزو او پر له پسې شکايتونوځخه ورسته ايله اوس په پلازمېنه کابل کې دروان کال د وږي په مياشت کې د وزيرانو شورا په مانۍ کې د دولت دجګپوړو چارواکو، د يونما استازي، د بيلابيلو مرستندويه بنسټونو غړو، د مدني ټولنواستازو اوګڼ شمير نورو مسؤولينو په ګډون د خوست د وګړو د پرمختګ، بنسټيزو غوښتنو، حقونو، وړانديزونو، شريکولو او اوريدو په موخه ديو پنځه کلن ستراتيژيک پلان دتطبيق او پرمختيا لپاره يو ورځني کنفرانس جوړ شو.

له کلونوکلونو راهيسې د خوست ولايت د مالومو او نامالومو لاسونو لخوا په انزواکې ساتل شوي دی، له همدې امله خوست کې ديو نورمال ښاري ژوند د نه پرمختګ، د مدني، ټولنيز اوملکې ورځنې ژوند په برخه کې يوه ستره بېساري مايوسوونکې تشه تر سترګو کيږي.

په کومه کچه چې دخوست ولايت د افغانستان له مهمو ولايتونوځخه بلل کيږي، په هماغه کچه د دولت د ځينو ناپوهه،بې کفايته مسؤولينو اوچارواکو له خوا د خوست ولايت د ټولنيزي ښاري ژوند اوکليوالي هر اړخيزه پرمختيا ته قصداً پاملرنه نه کيږي.

ما ( ليکوال ) په خپله سږکال د روژې په مبارکه مياشت کې د خوست ولايت ځخه يوځلې بيا ليدنه وکړه. په نوموړی ولايت کې د خوست د شريفوخلکو له خوا شوي پرمختګ، او مثبت اقتصادي او ټولنيز بدلونونه دستايني وړ دي. دا پرمختګونه په هغه اندازه نه محسوس کيږي، کوم چې په دې ورستيو کالونو کې د افغانستان په نورو ښارونواو ولايتونو کې ليدل کيږي.

خوست کې د ښناک پاکې اوبه د نه شتون له امله نن هم ډير خلک او ماشومان، په ډول ډول ناروغيو اخته دی دی،ځکه دوی د ډنډوناپاکې اوبه ښښي، دښوونځيو، روغتيايي کلنيکونوکمښت،د برېښنا نه شتون، د ذخيروي بندنو جوړول اړتيا، د پلونو، پلچکونو،د استنادي ديوالونو جوړولوکمښت، د ښاړو ځمکو نه آبادي او ولسواليو ته دسړکونو نه جوړيدلو کمښت، هرچاه ته له ليري ځخه ډير ښه بريښې . د خوست ميړني او دژوند په هره برخه کې له پامه غورځول شوي قومونه د خپلو دغو بنسټيزو حقونو،بې برخيتوب، محکوميت اومحروميتونوسره له ډيره پخواځخه اشنا دي.

ځه شي چې ما ته او بل هر مسافر ته د خوست ښارته د ننوتلواو ښه راغلاست سره سم سخت شووک ورکوي، هغه د خوست په شان ولايت کې،چې جګه افغاني ملي روحيه لري، په هيواد پالنه ،ملي توب ، دافغاني ملي ارزښتنو،دودنو او د ملي هويت په ساتنه کې خورا مهم ځای لري. په دغسي يو ولايت کې دځه باندې يوې لسيزې ځخه خلک خپلي ورځيني راکړه ورکړه په  پاکستانی( کلداره )يا کرنسی باندې ترسره کوي. خوست د هيواد يو له هغه ولايتونو ځخه دی، چې لا هم خلک په کې د ملي کرنسی افغانی پرځای خپلي ورځيني راکړې ورکړې پر پاکستانی کلدارې تر سره کوي. د افغانستان په ډيرو نورو ولايتونوکې هم دغه ملي ستره ستونزه شتون لري، چې د ملي کرنسی افغانی په ځای پاکستانی کلداره او ايرانی تومان په کې چليږي .

دافغانستان ختيځ اوسويلي ولايتونو کې پاکستانی کلداره او په ځينو لويديځو ولايتونو کې ايرانی تومان د افغانی ملي کرنسی په ځای چليږي

ملي کرنسی د يوهيواد دولتي ويښ ځواک، ملي هويت ،د دولت د ملي حاکميت او د ځمکني بشپړيتا ساحه تعيننوي.
ملي کرنسی د ولس او دولت ترمنځ د ټولنيز تړون يوخورا مهم توکي ګڼل کيږي. د ولس او دولت ترمنځ اړيکې اواعتبار لومړی په ملي کرنسی يا پيسو باندې پيل کيږي. د دولت اورګانونه د افغانستان بانک يا مرکزي بانک، د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مالیي ،اقتصاد وزارتونه او ښاروالي مجبوري دي، چې د هیواد په بازارونواو مارکیټونوکې پر ملي بانک نوټونو، د افغانۍ ارزښت او چلښت باندې مستقیماً کنټرول ولري. ځکه بانک نوټونه د شخصي بانکونو له خوا بازار ته نه رایستل کیږي .
د افغانستان په ځینو لویدیځو ولایتونو کې ایرانۍ تومان او د افغانستان په ختیځ اوسیلي ولایتونو کې پاکستانۍ کلداره د ملي کرنسۍ افغانۍ په ځای د چلښت له امله ،افغان دولتي او سیمیزو چارواکو ته ستر ملي شرم رامنځ ته شوي دی، چاروا کې یي په دې برخه کې له سترو ننګونو او ناکامویوسره مخامخ کړي دي .
افغان مرکزي حکومت د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې پراته ولایتونو ته، چې د پنجاب د مستقیمي سیاسي، اقتصادي اوپوځي محاصرې لاندې و راغلي، د پاکستانۍ کلداري یا د پاکستان دپیسو دسیاست په وړاندې او د پنجاب د پرلپسې اقتصادي ضربي د مخنیوي لپاره هېڅ ډول دولتي امنیتي تدابیر نه دي نیولي شوي. کابل کې د خوست ولایت د پنځه کلن ستراتیژیک پلان په کنفرانس کې د پاکستانۍ کلدارې یرغل د خوست لپاره دغه مهمه اقتصادي بنسټیزه ستونزه یا موضوع اصلاً یاده نه شوه. دولت د سویل او لویدیځ ولایتونو په اقتصادي سوداګریزو ستونزو او په بازار ونوکې د راکړې ورکړې د کنټرول هیڅ ډول لیوالتیا، سیاسي اراده، ټولوته منلي شوی جوت او هراړخیز پلان نه لري.
په کابل کې دولتي مسؤولین د خوست ولایت لپاره پنځه کلن سراتیژیک پلان جوړوي، دوی د خوست ولایت په ښار، ولسوالیو اولیري پرتوسیموکې ترټولوستره سیاسي،اقتصادي او استعماري ستونزه یعني پاکستان د خپلې کلدارې له لارې موړ پرخاوره اقتصادي برید کړي او د دې نا قانونه اقتصادي برید د مخنوي لپاره دولتي چارواکې او سیمه ایزه مسؤولین هیڅ ډول جدي پاملرنه او په وړاندې ټینګ جدي اقدام نه کوي.
د خوست شریف عام ولسي وګړې مجبوره کړل شوي دي، چې د څو مفسدو، بې کفایته او بدې اخیستونکې چارواکو او د څو تنو د ګوتو په شمار د پیسو لیواني سوداګرو له لاسه خپلې ورځنې راکړې ورکړې او چارې د خپلې درنې افغانۍ ملي پیسې پرځای په پاکستانۍ کلدارې ترسره کوي.
دیو ویښ ملي دولتي ځواک له خوا به د خوست شریفو وګړوته، هټیووالوته اوسترو سوداګرو ته د بهرنیو پیسو پرځای د افغاني پیسو یا بانک نوټونو دچلښت، د ملي هویت ارزښت ،ملي ګټې او په خپل هیواد کې دپیسو د کارولو ګټې ورښوولي شوي وای.
د یوملي ولسي دولت له خوا به خوست او د ډیورنډ کرښې ورڅېرمه ته په ټولو ولایتونو کې د پاکستانۍ کلدارې کارولو اومخنیوي په برخه کې عامه پوهاوي او په پرله پسې توګه پراخ ملي کمپاینونه او ملي پروګرامونه پیل شوي وای، هغه ملي ضد لوی سوداګر، هټیوال او د پاکستاني کلداري مافیایي کړې، چې د افغانستان په ښارونو کې پاکستانۍ کلداره چلوي، د دولت له خوا به لاس په لاس نیوالي شوي وای او د قانون منګلو ته به سپارل شوي وای او د پاکستانۍ کلداروکاروونکې ته قانونی سخته جزا ورکړل شوي وای. افغانان باید هم له ځانه سره لږ څه فکر وکړي او له ځانه پوښتنه وکړي، چې یو پنجابي یا یو ایراني به په پنجاب او تهران کې په افغانۍ کرنسۍ باندي راکړه ورکړه وکړي ؟ که کوم لیوني سړی دا کار هلته ترسره کړي، له هغه سره به د دوی دولتونه او ولسي خلک څه ډول چلند وکړي؟.
سړي حیران شي، چې افغان کمزوري فاسد دولت پوهیږي ،چې د پنجاب پوځ نه یواځې له ډیورنډ کرښې راتیر شوي دی، بلکې دوی د افغانستان وسله والو د ښمنانو،مخالفینو ته وسلې او لوجیستیکې مرستې برابروي، دوی د افغانستان په خاوره کې نظامي تاسیسات جوړکړي، دوی د افغانستان خاوره په پرله پسې توګه په توغندیو ولي، د دوی له خوا په ځینوسیمو کې پاکستاني تذکرې ویشل شوي دي، ان د افغانستان په ځینو افغاني سیموکې پاکستاني ښوونیزه تدریسې نساب پلې شوي دی ،افغاني غالۍ د پاکستان په نوم نړۍ ته صادریږي او په ګڼ شمیر ولایتونو کې لکه د پاکستان د ښارونو په څیر پاکستانۍ کلداره چلیږي، دا او داسې نورحرکتونه د پاکستان له خوا د یو ځانګړي اوږدمهال استعماري پلان له مخې ترسره کیږي. داسې نه ده ،چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د پنجاب هره یوه لاسوهنه یوه جلا جلا تصادفي پېښه ده.
د پاکستان په بانک نوټونوکې د انګریز علی جناح عکسونه دي.دغه بانک نوټونه د علي جناح له عکسونو سره د خوست ولایت دهر وګړې په جیب کې دي.له دې سره د پنجاب او د پاکستان مرکزي بانک لاس د سیمې دغیرتي خلکو په جیبونو کې دی. د دولتي چارواکو د بې کفایتي له امله د افغانانو ورځینې عادي ژوند پاکستانۍ کلداره ټاکي اوهره ورځ په پرله پسې توګه د دغوخلکو بنسټیز حقوق تر پښو لاندې کیږي. بیګناه بې دفاع افغانانوله ترهګریزو وژنوڅخه ورسته د ګاونډیو هیوادو له یو بل ستر اقتصادي ګواښ سره مخامخ شوي دي. د هغې ملي مسلمان پښتون افغان لمونځ او روژه به خدای ( ج ) څنګه قبلوي، چې په جیب کې د انګریز علی جناح عکسونه وي، دی چې دا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پردې پیسې په خپل هیوادکې چلوي، دی به څنګه ځان ته  پښتون افغان مسلمان او ګران افغانستان ته یو وفاداره افغان وګڼي وایي ؟

پوښتنه دا ده، چې افغانان ولې خپلې ملي کرنسۍ ته په درنه سترګه نه ګوري؟ له ۲۰۰۱ کال څخه په را وروسته موده کې چې افغاني بازارونو ته د امریکایي ډالر او د نویو افغاني بانکنوټونه وړاندې شول، چې څه ناڅه د ټولو عمده راکړو ورکړو لپاره وکارول شي، د ملي کرنسۍ افغانۍستونزه نوره هم ګرانه او پیچلې شوه
که څه هم د افغانستان ملي کرنسۍ افغانۍ له تېرو شپږو کلونو راهیسې، خپل ارزښت ساتلی او ورسره پاکستانۍ کلدارې خپل ارزښت ورو ورو له لاسه ورکړی دی. هغه کسان چې پاکستانۍ کلداره کاروي پوهیږي، چې له مالي زیان سره به مخامخ شي. بیاهم دی د کلدارې او تومان له کارولو څخه لاس نه اخلي
ولې افغانان په افغانستان کې پاکستانۍ کلدارې او ایرانۍ تومان د ملي کرنسۍ افغانۍ پرځای د راکړې ورکړې پرمهال کاروي؟ ولې د افغانانو د خپلې ملي درني کرنسۍ پرځای کم ارزښته پردې کرنسۍ خوښیږي؟ ولې خلکو ته په پاکستانۍ کلدارې د ورځیني ژوند توکې ارزانه پریوځي؟
که سړی هغې سیمو ته، چیر ته چې بهرني کرنسۍ په کې چلیږي، ښه ځیرشي، د خلکو حقوقي ،سیاسي، اقتصادي ناوړه حالت، د زده کړې خواشینونکی ټیټه حالت او دولتي ځواک نه شتون یا د دولتي چارواکونه فعالیت. سړی د پوښتني ځواب ته ځښت ډیر ځوابونه موندلي شي. یو ستر لامل یې دا دی، کله چې دولتي عالي رتبه او ټیټ رتبه مامورین معاش اخلي، دوی بیا افغانۍ په پاکستانۍ کلدارې بدلوي. په افغانستان کې ځکه خلک خپلې ملي کرنسۍ افغانۍ ته ارزښت نه ورکوي او نه یې اخلي. د ولایتود جګپوړې چارواکو په جیبونوکې امریکایي ډالر، پاکستانۍ کلدارې او ایرانۍ تومان دي.
اټکل دوه پاکستانۍ کلدارې په یوه افغانۍ بدلیږي. د خوست بازار په هټیوکې د توکې بیه په افغانۍ او پاکستانۍ کلداره یو شان ده .د سل افغانۍ توکې بیه هم په سل پاکستانۍ کلدارې ده. د ساري په توګه د سلو افغانیو په ارزښت توکې په سلو پاکستانۍ کلدارې پیرودل کیږي. که څوک هټیوال ته د ټوکو اخیستلو په بدل کې افغانۍ ورکړي، دی به تاسو ته ووایي، چې نه پوهیږم، چې په پاکستانۍ کلدارې دغه توکې په څومره کیږي، کلدارې راکړه. د افغانستان په کومو سیمو کې، چې د ملي کرنسۍافغانۍ پرځای پاکستانۍ کلدارې او ایرانۍ تومان چلیږي. په دغه سیمو کې افغانان خپل افغاني بانک نوټونه یا ملي کرانسۍ افغانۍ په ډیره سختي سره پیژندلي شي
د کابل مفسده، کمزوره، انحصاري ماتیدونکې بي کفایته اداره د ډیورنډ پرکرښه د پرتو قومونو بد حالت ته هیڅ پاملرنه نه ده کړي او نه یې کوي، له همدې امله د خلکو او دولت ترمنځ ستر واټن رامنځته شوي دی. ځیني ولسي وګړي مجبور کړل شوي دي، چې داسي یو ملي ضد منفي غبرګون د دولت د نه شتون او دبي واکې په وړاندې وښیي. اوسني دولت په دې ورستیو څو میاشتو کې نوره نشي کولای، د خلکوترمنځ دغه اوږد واټن بیرته را لنډکړی.
د راتلونکې نوي ملي مرکزي پراخ بنسټه افغان شموله حکومت له خوا باید د پاکستان داستعماري پلان په وړاندې د ډیورنډ کرښې دواړه غاړو ولسونوته یو ستراتیژیک متقابل پلان د ملي ګټو پربنسټ جوړ کړل شي. چې ورسره زموږ ملي کرنسۍ افغانۍ په قبایلي سیمه کې د راکړې ورکړې پرمهال وچلیږي. آزاد قبایلیان باید مجبور کړل شي ،کله چې دوی د خپل هیواد ښارونو او په ځانګړي دول خوست کې توکې اخلي، دوی باید راکړه ورکړه په افغانۍ تر سره کړي. د افغان دولت له خوا په قبایلي سیمه کې باید افغاني تدریسي نساب پلي شي او داسي نور و ډیرو هغه حرکتونه، چې پنجاب ځان ته په ډیر سپین سترګتوب سره په قبایلي سیمه کې اجازه ورکوي، دا چارې بیا دافغانانو مسلم حق دي داسیمه د افغانستان د ملي دولت د نفوذ سیمه ده. یرغلګرپنجاب ته باید خپل سرحد ورمالوم کړل شي.
د افغانستان نوي ملي دولت باید په ډګر اعلان وکړي،چې د پنجاب یرغګر پوځ د ازادوقبایلي سیموڅخه، د افغانستان د اغیزې سیمې څخه، چې څنګه راغلي باید هماغسي بیرته زر ووځي. ځکه له کلنه چې د پنجاب پوځ دغي سیمې ته راننوتلي دی، افغانستان ناارامه شوي دی.
د دولت له خوا باید د بهرنیوپیسو د مخنوي په اړه خلکو ته هراړخیزه مالومات ورکړل شي، په ښارونو کې د بهرنیوپیسو د مخنیوي لپاره د څار کمیسیون سره یوځای یو ځانګړي روزل شوي، ضربتي وسله وال ځواک رامنځته شي او یواځې د کلدارې په مخنوي باندې کار پیل وکړي. ملي یا ستر سوداګر باید وپوهول شي، کله چې دوی په بهر کې په هره بهرني کرنسۍ وارداتي توکې پیري، دوی مجبور دی، دغه توکې د افغانستان په بازارنو کې په ملي کرنسۍ افغانۍ باندې و پلوري.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د افغان دولت او د افغانستان بانک د کرنسۍکمزوري، نيمګړي پاليسي د نړۍ په ټول هيوادو کې مرکزي بانکونه، په افغانستان کې د افغانستان بانک د پيسو د نده او د پيسوسياست په خپلواکه توګه پر مخ بيايي.

د افغانستان بانک پاليسي اود پولي سياست موخې، افغاني بازارونو،مارکيټونوکې،د هيواد اقتصادي بحران او د پيسو پړسوپ ته په کټو سره، د پيسوتقاضا پوره کول او په کافي اندازه افغانۍ بازار ته وړاندې کول دي. ورسره په نړۍ کې منل شوي نړيواله کرنسۍ امريکايي ډالرو او ملي کرنسۍ افغانۍ ترمنځ تعادل ثابت ساتل دي. په هيواد کې د توليداتو او صادراتو ترمنځ د بلانس او تعادل ثابت ساتل دي. د افغانستان بانک موخه او پاليسۍ دا هم ده، چې دبهرنيو اسعارو د تبادلې نرخ او ورسره د ورځنيوتوکو نرخونه هم ثابت وساتي . د هيواد ملي کرنسۍ افغانۍ د هيواد د ملي اقتصادي ودې لپاره وکاروي، تر څوخلک له اقتصادي او مالي ستونزو څخه وژغول شي. ورسره ملي کرنسۍ افغانۍ خپل ستراتيژيک حالت او نړيوال ثابت ارزښت ومومي. تر څوملي کرنسۍ افغانۍ خپل ملي ارزښت دبهرنيو اسعارو يا د ډالرو په مقابل کې عادي او ثابت وساتي.

د افغانستان بانک مجبور دی، په تدريجي ډول هرکال په افغاني بازارونو کې د افغانۍ د خپرولويوه معينه سلنۍ لوړه کړي. اوسمهال د افغانستان په بازارونو کې اټکل ۹۳ مليارده افغانۍ شتون لري. د افغانستان بانک په تکتيکي ډول امريکايي ډالر په ارزانه بيه پلوري اوخپله ملي کرنسۍ افغانۍ په لوړه بيه بيرته پيري. د افغانستان بانک ستراتيژۍ او د پيسو پاليسي بايد د افغانۍ کرنسۍ ارزښت د بهرنيو اسعارو په ځانګړي توګه د امريکايي ډالرو په وړاندې ثابته وساتي. افغانستان کې بايد د توليد او صادراتو کچه لوړه شي، ورسره د افغانۍ ارزښت راښکته کړل شي. ترڅو افغانۍ خپل نورمال حالت ته راوګرځي.

سره له دې چې دلسو کالو راهيسې د افغان دولت له خوا سيمه ايزو چارواکو، پوليسو، څارنواليو او د بانک کارکوونکو ته د يوې څارني کمېټې د جوړولو سپارښتنه هم شوي ده، چې د بهرنيو اسعارو د راکړې ورکړې مخه ونيسي، د افغانۍ ملي کرنسۍ دود او اوچلند ته پراختيا ورکړي. په ختيځو ولايتونو کې د دغې کمېټې فعاليت او اغيزه تر ننه نه ترسترګو کيږي. د پاکستانۍ کلدارو او ايرانۍ تومان د چلښت نه مخ نيواي او نه برياليتوب په لاره کې يو لامل په خپله د کميسيون په دنده کې نه جديتوب، بډو اخيستل او له سوداګرو سره جوړجاړی ښودل شوي دی. په افغاني بازارونو کې د پاکستانۍ کلدارو مخه د نغدي جريمې له لارې نشي نيول کېدای. له دې سره هڅيوال هڅول کيږي، چې د جريمې پيسې د توکو پر بيو ورزياتې کړي او د جريمې بدل له پېرودونکو څخه اخلي .

په افغاني بازارونو کې د بهرنيو پيسو نور لاملونونه، د حکومت له خوا پر ازاد بازار د کنټرول نشتوالي، بې کفايته مسؤولين، د ښې ادارې نشتوالي له امله د افغانستان ډيري ستونزې، چی بايد تر اوسه حل شوی وای، لا همداسې نيمګړي،نا حل شوي پاتې دي .

د افغان حکومت د پيسو سياست ثابت او سم نه دی. هغه څه ته چې اړتيا ده، هغه د يواغېزمن ملي قانون رامنځته کول دی، چې پر ټولو افغان وګړو اوافغاني بازار ونوکې، پر ټولو بهرنيواسعارو کارېدونکو باندې په مساوي ډول پلي کيدل دي.

افغان دولت بايد د افغانۍ کارولو قانون لومړی له خپل ځانه پيل کړي، دولت مجبوردی، چې دخپلو ملي سترو پروژو تړونونه په افغانۍ نه په ډالرو لاسليک کړي.

افغان دولت مجبور دی، په هره بيه چې وي، په افغاني بازارونوکې پر بهرنيو پيسو راکړې ورکړې باندې کلک بنديز ولګوي .

د افغانستان بانک او د ماليي وزارت د پيسو پاليسي اوسياست ناڅرګند ځکه دی، دوی د ټول هيواد کلني عوايد او مصارف عامو وګړو ته درسنيو له لارې نه اعلانوي او ولس ته د عوايدو د کمښت او زياتوالي لاملونه نه ور ښکاره کوي او ولس ته د روڼوالي او دشفافيت حساب نه ورکول کيږي. ښايي ځينې په دې باور وي، دګاونديو هيوادواقتصادي ناورين يو لامل په هيواد کې د توليدي اقتصاد نه شتون وي. دا د بهرنيو پيسو د کارولو لپاره هيڅ دليل نشي کيداي، چې افغانستان يو مصرف کوونکې يا وارداتي هيواد دی او د ګاونډيو هيوادو توکو يا اجناسو ته يومنحصر هيواد دی. پر بهرنيو پيسو د راکړه ورکړه له امله د افغانستان په بازارونو کې توکې ثابته بيه نه لري، له همدې امله په افغانستان کې افغانۍ کرنسۍ يوه بې اعتباره شوي کرنسۍ ګرځيدلې ده. افغاني بازارونه او مارکيټونه ملي کرنسۍ افغانۍ ته ځښته ډيره اړتيار لري .

### د خوست ـ ګرديز ـ کابل دلويې لارې ځنډاو د نه جوړيدو لاملونه

د کابل ـ خوست لويه لاره دافغانستان يوه مهمه نښلوونکې سوداګريزه او ترانزيټي لاره ده. د شمالي وزيرستان، غلام خان، خوست، ګرديز، کابل، مزار شريف حيرتان د ترانزيټ لويه لاره، د خوست نړيوال هوايي ډګر او يو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شمیرنورو ټولګټو ملي پروژو په تطبیق کې ځینې وزارتونه په ځانګړي ډول د ترانسپورت او هوایي چلند او د ټولګټو وزارتونو د نه پاملرنې له امله دغه پروژې له یو کال څخه بل کال ته د نامالومو لاملونو له امله ځنډیږي. د یادو شویو وزارتونو یوشمیر پیژندل شوي چارواکې د مهموټولګټوپروژو لپاره منظوره شوې دولتي بودیجه د خوست ولایت سیمیزو چارواکو او مسؤولینو ته د بیلابیلو پلمو او دلایلو په ویلو نه انتقالیږي.
پوښتنه دا ده، چې حکومت ولې د یوې لویې ملي پروژې په تطبیق کې په پرله پسې توګه ځنډ او ځنډ پیښیوي؟.
د خوست ولایت قومي مشران او خلک د خوست ګردیز کابل سړک د جوړولو په کار کې د مرکزي حکومت ځینې چارواکي ګرم بولي او په توکمي تعصب او بې کفایتي یې تورنوي او وایي، چې د خوست د لوی سړک د جوړولو د ځنډ لپاره هیڅ ډول امنیتي یا بل کوم معقول دلیل نشته، چې دا پروژه وځنډیږي، بلخوا د خوست سیمه ییز چارواکي وایي، دوی هم د خوست ګردیز لویې لارې د نه جوړولواو د چټک کار نه کولو په د ځنډاو پټو لاملونو نه پوهیږي.
د خوست او کابل ترمنځ ۲۲۴ کیلومتره واټن پروت دی. د کابل، ګردیز او خوست لویه لاره تر اوسه په مکمل ډول د سړک جوړووني چارې له تخنیکي، منهدسي پلوه سمې سروې او په منظم ډول پلان شوي نه دي.
دخوست ـ ګردیز سړک څه باندې ۱۰۱ کیلو متره اوږدوالی لري،چې تراوسه پورې د ۶۳ کیلومترسړک جوړولو چارې د ټیټ کیفیت پروژو له خوا کارونه یې تر سره شوي دي او پنځه ویشت کیلومتره سړک لا تر ننه په خامه او کنډ کپر حالت کې پاتې دی. د کابل څخه تر ګردیزه سړک پوخ دی، له ګردیز څخه تر خوست پورې چې ډیره لاره د ځدرانو په ښکلو زرغونو درو او جګو غرونو کې تیریږي. دغه ترانزیټي مهمه لویه لاره دومره خرابه ده، چې د دوو ساعته سفر تر پنځوساعتوپورې اوږدیږي. په دغه لویه لاره کې دومره خاورې،ګرد او دوړې دي، چې په دوه یا درې متري کې بل موټر نه شي لیدل کیداې. په لویه لاره کې زرغونې ونې د ګرد او خاورې له وجهې خړې پړې بریښي او د لمنځه تللوپه حال کې لیدل کیږي .په ټوله لاره کې د مسافرو لپاره یوه چایخونه،یو رستورانټ او یا دتیلو یو چانځای نه تر سترګوکیږي.
ډیرې ناروغان د بیړنیو درملنې په موخه کابل ته لیږدول کیږي، دوی دستونزمندې لارې په اوږده کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي. دغه لاره د واورې،بارانونو له امله څو ساعته د ترافیکو پرمخ وتړل شي. په دغه خامه لاره کې دلارې د خرابي له امله لیني مسافر وړنوکو موټرو ته ډیر ژر تخنیکي پیښې ورپیښیږي . له دغې لویه لارې څخه د افغان ملي اردو، د پولیسو جزوتامونه او دبهرنیو ځواکونوقطعات، او زغروال موټر له خوا هم کار اخیستل کیږي. له همدې امله وسله وال مخالفین په دغه لویه لاره کې ډیر فعال دي، دوی تل په خامه لاره کې ترپلونو او پلچکونو لاندې ماینونه ځای پرځای کوي، چې د بیګناه مسافرو دو ژنې لامل ګرځي، د سړک کندو کپر له وجهې ماشومان ،ناروغان،سپین ږیرې څه، چې لویان د سړک دستړې مزل ته زړه نشي ښه کولای.
لنډیز په یواسلامي هیواد اویوه اسلامي دودیزه ټولنه کې یو متحد مسلمان ولس د ځواکمن اقتصاد یو مهم اړخ جوړوي. که څوک په دې ملي اقتصادي برخه کې فعاله ونډه وانخلي، بیا ده له ټول مظلوم ولس سره ستره جفا او ګناه کړي ده. دا هم باید په څرګنده سره وویل شي، په دغه ستونزه کې ولسي عام وګړي، سیمه ایزه ولایتي چارواکي او د دولت مرکزي چارواکي ګرم ګڼل کیږي. داهم هیڅ دلیل کیداې نشي، چې کمزورې دولت د دغو سیمو د خلکو حقوقي،سیاسي او اقتصادي ستونزو ته پام نه کوي. دوی مجبوره کړل شوي دي، چې دا ډول منفي ملي ضد غبرګون وښیي. دوی بیاهم د دې ټولو بې عدالتیو سر بیره مجبوردي، دستونزو سره سره د خپلې ملي دندې،افغاني ملي احساس، ملي هویت او ملي یووالي له مخې په خپله ملي کرنسۍ افغانۍ باندې راکړه ورکړي ترسره کړي. دوی باید د خپلې ملي کرنسۍ څخه په خپل ښار کې دفاع وکړي. دوی باید وپوهیږي، چې افغانۍ د دوی ملي هویت دی او د هیواد په اقتصاد کې د افغانۍ کارول څومره ګټور او ارزښتمن تمامیږي. کابل او د شمال ولایتونه ټول خلک خپلې راکړه ورکړو کې ملي کرنسۍ افغانۍکاروي، دوی هم له لوړې مړه شوي نه دي اوګټه هر چا ته خوند ورکوي.
موږ ټول پوهیږو، چې هر هیواد خپله ملي کرنسۍ یا بانکنوټونه لري. هیڅ هیواد د بل هیواد کرنسۍ یاپیسې ته په خپلو بازارونواو مارکیټونو کې اجازه نه ورکوي، چې خلک پرې ورځنۍ راکړې ورکړې تر سره کړي.
که د افغانستان په سویلي او سویل ختیځ ولایتونو او لویدیځ ولایتونو کې همداسې دراکړې ورکړي پرمهال د افغانیو پر ځای کلداره او ایرانۍ تومان وکارول شي،له امکانه لرې به نوي چې په ټول افغانستان کې ملي کرنسۍ افغانۍ بلکل بې اعتباره شي. دښمن ګاونډي هیوادونه به له افغانانو څخه دا اقتصادي جګړه هم وګټي. دافغانستان راتلونکې حکومت مجبور دی، چې د بهرنیو اسعارو او کرنسۍ د چلند د مخنیوي لپاره یوه بیړني ملي تګلاره جوړه کړي.تر څو افغانستان خپل ملي هویت اوملي اعتبار ترلاسه کړي او هیواد له دغې اقتصادي بد حالت څخه وساتل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د خوست په ولایت کې په پاکستانی کلدارې بندیز، یواځینی لاره د خوست ولایت د وګړو عامه پوهونه، د قومونه ټینګه اراده اود ولسي خلکو، جرګې،مرکې اوپرېکړې له لارې دغه ستونزه حل لیدیشي. خوستوالوته یوه لاره پاتې ده، دوی باید په خپله خاروه، په خپل هیواد کې خپله ملي کرنسی افغانی وکاروي.
پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ